**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په ښې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوي معلومات ښايي د مخکینی خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والي نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لارښوونه کوؤ چې د هر ډول ځانګړې قانونې مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

# تقنیني شننه

**د نادولتي مؤسسو له خوا د "غیرضروري" پروژو د پروپوزلونو او وړاندیزونو ترتیبولو ته د پای ټکی ایښودل**

**نېټه: ۱۴۰۲/۱۱/۷ هـ ل (مصادف: ۲۷ جنوري ۲۰۲۴)**

---

## 1- د سند عنوان

[د کورنیو او نړیوالو غیرامارتي مؤسسو له خوا د غیرضروري (عامه پوهاوي) پروژو لپاره د پروپوزلونو او وړاندیزونو ترتیبولو ته د پای ټکی ایښودل](#).

## 2- سریزه

- **د تقنیني سند لنډیز:** د اوسني سرپرست حکومت د اقتصاد وزارت له خوا صادر شوی ۱۷م ګڼه هدایت د دولتي مرستندیه ادارو، نړیوالو مؤسسو، او نورو سازمانونو (چې منبعد "مؤسسې" بلل شوي) په ګډون تمویلوونکو او نادولتي مؤسسو لپاره د دوی د فعالیت د تمرکز په ساحه کې د بدلون په راوستلو حکم کوي. دغه مؤسسې مکلف ګرځول شوي چې خپل تمرکز او هلې ځلې د عامه پوهاوي، د وکالت، د سولې ټینګښت، او د شخړو هواري اړونده پروژو څخه اړینو بشرپاله مرستو او د زیربناوو پراختیایي پروژو ته واړوي. دا اقدام د ټولنې د ټیکاو او په اغېزمنه توګه د سرچینو د تخصیص لپاره د یوې پراخه ستراتېژۍ برخه دی.

- **د سند لپاره حقوقي بنسټ:** دا دستور العمل، د ۲۰۲۲ کال د نادولتي مؤسسو د همغږۍ او تنظیم کړنلارې سره سم، د اقتصاد وزارت له خوا، په مشخصه توګه د مالي او اداري معینیت مقام او د نادولتي مؤسسو د همغږۍ ریاست له لارې، صادر شوی دی. دا دستورالعمل د همدې کړنلاې د ۴ (۱٦) مادې له حکمونو سره سمون لري چې په افغانستان کې د نادولتي مؤسسو د فعالیتونو لپاره تنظیمي چوکاټ مطرح کوي. دا قانوني مرجع په هیواد کې د نادولتي مؤسسو د کاري محدودې او تمرکز په تعریفولو او رهبري کولو کې د وزارت په نقش باندې ټینګار کوي.

**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په ښې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوي معلومات ښایي د مخکینۍ خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والی نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لارښوونه کوو چې د هر ډول ځانګړې قانوني مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

- **د سند محدوده:** دا دستورالعمل د فعالیت پای ته رسولو او د فعالیت په ساحه او تمرکز کې د بدلون راوستلو لپاره د مشخصو ساحو په ټاکلو سره په افغانستان کې فعالیت ترسره کوونکیو ټولو کورنیو او نړیوالو مؤسسو په هکله د پلې کېدو وړ دی. په دستورالعمل کې کارول شوې ژبې ته په کتو، په ځانګړې توګه په دویم پاراګراف کې چې کومه ژبه کارول شوې، داسې برېښي چې د دې دستورالعمل موخه اساساً پر راتلونکیو پروژو باندې د تمرکز په درلودلو سره مخ پر وړاندې حرکت کول دي. دا دې ټکي ته اشاره کوي چې ښایي روانې پروژې به، چې د دې دستورالعمل تر صدور وړاندې پیل شوې، اغېزمنې نه شي.

**3- شرحه او شننه**

- **د مسیر سملاسي بدلون:** اوسنی نظام ټولو دغو مؤسسو ته د وکالت، د سولې ټینګښت، او د عامه پوهاوي پروژو څخه د لاس په سر کېدو او په فوري ډول د بیړنیو بشرپاله مرستو او د زیربناوو د پراختیا پروژو ته په لومړیتوب ورکولو حکم کوي.

- **د فعالیتونو د تم کولو لپاره مشخصې ساحې:** په دستورالعمل کې د عامه پوهاوي، وکالت، او د سولې د ټینګښت نوښتونه په ګوته شوي چې له دغو مؤسسو څخه په یادو برخو کې په فوري توګه د پروژو د ترلو غوښتنه کوي.

- **د نه رعایت پایلې** د دې دستورالعمل له حکمونو څخه سرغړونه ښایي د جدي پایلو سبب شي چې د ارزونې د عالي کمېسیون له خوا احتمالي منحل کېدل هم پکې شامل دي. که څه هم په دې دستورالعمل کې په مشخصه توګه د ارزونې عالي کمېسیون په هکله وضاحت ورکړل شوی نه دی، د دې کمېسیون شتون او دندې د ۲۰۰۵ز کال د نادولتي مؤسسو قانون څخه سرچینه اخلي چې په ځانګړې توګه په ۱۷مه ماده کې یې یادونه شوې ده. دې قانون پر بنسټ تأسیس شوی د ارزونې عالي کمېسیون د اقتصاد وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د مالیې وزارت، او د عدلیې وزارت په ګډون د یو شمېر افغان وزارتونو له استازو څخه جوړ دی چې مشري یې د اقتصاد وزارت پر غاړه لري. دا کمېسیون د نادولتي مؤسسو له خوا د سپارل شویو غوښتنلیکونو په ارزولو او کره کتنه کې حیاتي نقش لوبوي او د حقوقي او عملیاتي معیارونو، چې د ۲۰۰۵ز کال د نادولتي مؤسسو قانون په ۱٦مې او ۱۹مې ماده کې یې یادونه شوې، رعایت باوري کوي. سره له دې چې دا کمېسیون د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په وخت کې منځته راوړل شوی و، خو داسې برېښي دا کمېسیون لا هم خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

- **د اندېښنې وړ ټکي/خطرونه:** دا دستور العمل کولای شي د مؤسسو عملیاتي محدوده باندې د پام وړ اندازه محدودیت وضع او د مدني ټولنې د فعالیتونو فضاء اغېزمنه کړي. د 'حیاتي اړتیاوو' او 'زیربناء' په تعریفولو کې ابهام د ډول ډول تفسیرونو او د تطبیق ننګونو لامل کېدی شي. سربېره پر دې، د شکلي وضاحت نه شتون د خپلسري انفاذ لامل کېدی شي او مؤسسې د سرچینو له یوه عادلانه سیستم څخه محرومولی شي.

### -4 اغېزې

- **احتمالي مثبتې اغېزې**: په دستورالعمل کې د بشرپاله او زیربنایي اړتیاوو د پوره کولو لپاره د سرچینو د لګولو په مسیر کې د بدلون راوستلو لارښوونه شوې، چې احتمالاً وګړو لپاره د لا زیات فوري او ملموسو ګټو سبب کېدی شي. د لیک له مخې، د اقتصاد وزارت په پام کې لري چې له یوه بل سره د مشترکو مواردو نوښتونو شمېر راکم کړي تر څو د امکاني مؤثریت کچه لوړه شي.

- **احتمالي منفي اغېزې**: د اوسني نظام دا دستورالعمل د ځینو مؤسسو پر فعالیتونو د پام وړ محدودیت وضع کولی شي چې په ترڅ کې یې به د مدني ټولنې فعالیت زیانمن او رواني پروژې، په ځانګړې توګه د سولې د ټینګښت او وکالت په برخو کې، مختل شي. په عملیاتي تمرکز کې ناڅاپي بدلون کولی شي د نادولتي مؤسسو او د ځآیي ټولنو ترمنځ رامنځته شوی باور او دوستانه اړیکې زیانمنې کړي چې احتمالاً د دوی پر خدمتونو متکي خلکو کې د مغشوشتیا او د بې برخې کېدلو د احساس لامل کېدای شي. سربېره پر دې، که چېرې نوي هدایات د دوی له موضوعي لومړیتوبونو څخه انحراف وکړي نړیوال بسپنه ورکوونکي ښايي بودجه کمه کړي چې مالي سرچینو ته د نادولتي مؤسسو لاسرسی اغېزمنولی شي. دا کار، په خپل وار سره، د زیانمننې وړتیا درلودونکو وګړو د محرومیت سبب کېدای شي ځکه چې دوی هغه اړینو خدمتونو ته له لاسرسي څخه بې برخې کېږي چې پخوا به ورته نادولتي مؤسسو له خوا چمتو کېدل. په ټولیز دول، دا حکم د نادولتي مؤسسو د سکټور په مسیر کې د پام وړ بدلون سبب کېدای شي چې د دوی پر مؤثریت او له ټولنو او تمویلوونکیو سره د دوی پر اړیکو مساوي ناوړه اغېزه کولی شي.

## 5- اندیښنې

- **په رعایت او تفسیر کې پېچلتیا:** د 'حیاتي اړتیاوو' او 'زیربناء' په تعریفولو کې ابهام د سلیقوي انفاذ او د متناقضه تطبیق لامل کېدی شي.

- **د شکلي صراحت نشتوالی:** د بندیزونو، نه رعایت، او د مرافعه غوښتنو پروسو په هکله تفصیلي لارښووني نشته دی چې د روڼتیا او عدالت د نه شتون سبب کېدای شي.

- **د اړونده ښکېلو لوریو ناکافي ښکېلتیا:** د دې دستورالعمل په ترتیبولو او صادرولو کې ښایي له نادولتي مؤسسو، حقوقي کارپوهانو، او د ټولنې استازو مهم نظرونه له پامه غورځول شوي وي.

## 6- سپارښتنې

- **د لوړې کچې صراحت:** د "حیاتي اړتیاوو" او "زېربناء" په هکله د تفصیلي تشرېحاتو چمتو کول به نادولتي مؤسسو سره مرسته وکړي تر څو خپلې پروژې د هدستورالعمل د موخو سره همغاړې او سم تطبیق یې باوري کړي.

- **د ډول ډول زیربنایي اړتیاوو پېژندل:** دا منل، چې په زېربنایي کارونو کې ملموسې ودانیزې چارې او بنسټیز ټولنیز عناصر، لکه پوهنه او د عامه پوهاوي نوښتونه، شامل وي، د ټولنیز پرمختګ پر لور د یوې پراخه تګلارې په ترتیبولو کې آسانتیا رامنځته کولی شي.

- **استثنأت په پام کې نیول:** هغه پروژو لپاره د استثنأتو یا مشخصو اجازو ورکولو په موخه ځانګړو امتیازي لارښوونو ته ځای ورکول چې په ټولنیز ټیکاو او پرمختګ کې د پام وړ ونډه لري، آن که په دودیز ډول زیربنایي پروژې نه ګڼل کېږي هم، ښایي د دې دستورالعمل ګټورتوب لا لوړ کړي.

- **تقنیني څار او پروسه:** دا ډاډ ترلاسه کول به شفافه حکومتولي ترویج او د اړونده ښکېلو لوریو ګټې خوندي کړي، چې د مدني ټولنې سازمانونو باندې د ناوړه اغېزه کوونکو بدلونونو د پروسس چارې د قانون جوړونې د یوه اشتراکي میکانیزم له لارې، چې پکې حقوقي کارپوهان شامل وي، ترسره کېږي.

- **په پرېکړه کولو کې د اړونده لوریو شریکول:** د پرېکړه کولو په پروسه کې له نادولتي مؤسسو، د ټولنې استازو، او حقوقي کارپوهانو سره فعاله سلا مشوره کول به په پراخه کچه د آګاهانه او عادلانه لارښوونو سبب شي. له دغه مؤسسو سره له نژدې څخه په ګډ کار کولو سره، اوسنی سرپرست حکومت د دوی له پراخه عملي تجربې او پوهې څخه ګټه اخیستلی شي چې دا کار د ملګرتوب پر بنسټ ولاړې تګلارې د رامنځته کولو لپاره زمینه برابرولی شي. دا ډول ګډ کار کول نه یوازې له ځمکنیو واقعیتونو سره د دې دستورالعمل د موخو د انطباق سبب کېدای شي، بلکې د ټولنیز پرمختګ لپاره ګډې موخې ترویجولی هم شي.  دا شراکت، د دې پر ځای چې سوچه د دستورالعمل پر بنسټ رامنځته شوی ملګرتوب واوسي، کولای شي د نوښتونو اغېزمنتیا لا پیاوړې کړي او د اړونده ټولو لوریو ترمنځ د ګډ مالکیت او تعهد حس ته هم وده ورکړي.

- **د بندیزونو او مجازاتو په اړه وضاحت:** د بندیزونو او مجازاتو د تطبیق لپاره د روښانه معیارونو سره سره، د نه رعایت لپاره د بندیزونو او مجازاتو د تفصیلي شرحې شاملول به روڼتیا او عدالت تأمین کړي.

- **د نادولتي  مؤسسو نقشونو او حقونو ته درناوی:** په دې دستورالعمل کې د نادولتي مؤسسو د متنوع نقشونو او حقونو منل به باوري کړي چې اړین خدمتونه به نه مختل کېږي او بل دا چې مؤسسې په اغېزناکه توګه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکولی شي.

- **د شخړو هواري او استیناف غوښتنې لپاره چوکاټ:** په دستورالعمل کې د شخړو د هواري او استیناف غوښتنې د روښانه او لاسرسي وړ بهیر رامنځته کول به د سمون او اصلاح لپاره یو سیستم برابر او عادلانه او شفافه پرېکړه کول به باوري کړي.

- **هراړخیزه ګڼ سکتوریزه ارزونه:** د عدلي سکټور وزارتونو په شمول د اړونده لوریو په ښکېلولو سره یوه عمومي او هراړخیزه ارزونه دا باوري کولو لپاره خورا اړینه ده چې د  دې دستورالعمل اقتصادي، قانوني، عدلي، روڼتیایي او د بشري حقونو اغېزې په بشپړه توګه په پام کې نیول شوي دي.

### -7  پایلې ته رسېدنه

د ۱۷م ګڼه دستورالعمل موخه په کلیدي برخو کې د تمویلوونکو، نادولتي مؤسسو او نورو مؤسسو د سرچینو متمرکز کول دي؛ خو په دې سره ګڼې اندېښنې راولاړې شوي دي؛ دا اندېښنې په ځانګړې توګه د دې محدودیت لګوونکي محدودې او د تفصیلي لارښوونو د نه شتون په برخه کې دي. لکه څرنګه چې د سپارښتنو په برخه کې یې یادونه شوې، په پراخه کچه یوه لا ډېره دقیقه، ټولشموله، شفافه

**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په ښې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوې معلومات ښایي د مخکینی خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والی نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لاربښوونه کوؤ چې د هر ډول ځانګړې قانوني مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

تګلاره کولای شي احتمالي منفي اغېزې راکمې کړي او په افغانستان کې د پایداره ټولنیز پرمختګ او د زېربناوو د پیاوړي کېدو په برخه کې د دې دستورالعمل اغېزمنتیا نوره هم لوړولی شي.

## 8- سرچینې:

د اړونده تقنیني سندونو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د افغانستان د قانون د حاکمیت د څار ویبپاڼې (ARLO) اړونده سرچینو ته چې لاندې ورکړل شوي، مراجعه وکړئ:

**د کورنیو او داخلي مؤسسو د فعالیتونو د همغږۍ او تنظیم په اړه د اوسني نظام د ۲۰۲۲ د اکتوبر د ۲۲مې نېټې کړنلاره:** دا کړنلاره چې د رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخند له خوا منظور شوې، په افغانستان کې فعالیت ترسره کوونکو کورنیو او بهرنیو نړیوالو نادولتي مؤسسو لپاره تنظیمي چوکاټ برابروي. په کلیدي اړخونو کې یې له اقتصاد وزارت سره د نادولتي مؤسسې الزامي ثبت، د سکتور اړونده مشخصې پروژې لاربښود ټکي، د تفصیلي رپوټ ورکولومیکانیزمونه شامل دي. په دې کړنلاره کې د همغږۍ سروې ګانو، له سکتوري مراجعو سره په همغږۍکې د پروژې د تطبیق، او د حقوقي چوکاټونو د رعایت پر اړتیا د ټینګار په درلودلو سره د روڼتیا، حساب ورکولو، او د پروژې د څار په څېر ننګونو ته رسېدنه شوې ده. دا سند د اوسني سرپرست حکومت تر سیوري لاندې د نادولتي مؤسسو لپاره د عملیاتي چاپېریال د درک کولو لپاره خورا مهم دی.

**د صحي پروژو د تطبیق د لاربښود ټکو په اړه د بهرنیو چارو د وزارت د ۲۰۲۳ د سپتمبر د ۹مې نېټې متحدالمآل:** په دې متحدالمآل کې، چې د اوسني نظام د بهرنیو چارو وزارت له خوا صادر شوی، د ملګرو ملتونو ادارو او نړیوالو مؤسسو سره، چې په افغانستان کې فعالیت ترسره کوي، د عامې روغتیا وزارت لاربښوونې شریکې شوې دي. دا حکم، چې د ۲۰۲۳ د اګست له ۳۰مې نېټې څخه نافذ دی، د روغتیا اړونده پروژو لپاره لاربښود ټکي په ګوته کوي چې پکې د کارمندانو له خوا ناروغانو ته د نغدو پیسو د ویشلو په اړه بندیزونه او د پروژې د پلي کېدو ساحې څېرمه ځایونو کې د ملکي وګړو کورونو ته د کارمندانو د ورتګ پر ضد محدودیتونه شامل دي. د لاربښودو ټکو موخه د پروژې د تطبیق په جریان کې د مشخصو مقرراتو رعایتول او یادو مقرراتو ته غاړه ایښودل ده چې دا کار د روغتیایي پروژې په عملیاتو کې د روڼتیا او حساب ورکولو پر اهمیت ټینګار کوي. دا متحدالمآل مکتوب، چې د عملیاتي او چلند مطرح شویو معیارونو سره د همغاړیتوب پر اړتیا ټینګار لري، په افغانستان کې د صحي پروژو په پلي کولو کې بوختو نړیوالو مؤسسو لپاره خورا اړین دی.

**د مسؤولیت د رفع کولو یاددښت:** دا شننه (تحلیل) یوازې د معلوماتي موخو لپاره ده او د مسلکي حقوقي مشورې بدیل نه دی. دا تحلیل په ښې پرې والي، ښه نیت او د داسې معلوماتو په کارولو سره چمتو شوی دی چې د سند چمتو کولو په وخت کې لیکوالانو ورته لاسرسی درلود. په یاد سند کې درج شوي معلومات ښایي د مخکینی خبرتیا پرته تغییر ومومي او د هغه د منځپانګې بشپړتیا یا کره والی نه شوتضمینولای. موږ ټولو لوستونکو ته په کلکه لارښوونه کوؤ چې د هر ډول ځانګړې قانوني مسئلې په برخه کې له متخصص حقوقي سلاکار سره سلا او مشوره وکړي.

**په نادولتي مؤسسو کې د ښځو کار د ممانعت په اړه د مالي او همغږۍ چارو د معین له خوا د ۲۰۲۲ د دسمبر د ۲۴مې نېټې هدایت:**

دا دستورالعمل چې د اوسني سرپرست حکومت نظام د اقتصاد وزارت له خوا صادر شوی، ټولې کورنۍ او نړیوالې نادولتي مؤسسې مکلف ګرځوي چې د خپلو ښځینه کارکوونکو دندې وځنډوي. په دې دستورالعمل کې په یادو مؤسسو کې د ښځو د کار کولو له امله له اسلامي حجاب او د اوسني نظام د پلې کېدونکو قوانینو څخه د سرغړونې په اړه اندېښنو ته اشاره شوې ده. د اقتصاد وزارت، چې د نادولتي مؤسسو د فعالیتونو د همغږي کوونکي نهاد په توګه دنده ترسره کوي، د قوانینو او مقرراتو په انفاذ کې پر خپل نقش ټینګار کړی. د دغه دستورالعمل په رعایتولو کې پاتې راتګ د نادولتي مؤسسې د عملیاتو د جواز/لایسنس د لغوه کېدو سبب کېدای شي. دا دستورالعمل په ورته وخت کې د هغه عملیاتي محدودیتونو د درک کولو لپاره، چې په ځانګړې توګه د نظام تر چتر لاندې د جنډر (جنسیت) اړونده کاري ځواک د پالیسیانو په برخه کې یې شتون درلود، خورا مهم و چې نادولتي مؤسسې ورسره مخامخ وې. په دې متحدالمآل کې پراخه حقوقي او تنظیمي چاپېریال انځور شوی چې په هیواد کې د نادولتي مؤسسو پر فعالیتونو یې اغېزه درلوده.